ښاغلی میر اکبر

# د پښتونستان کړکیچ د امپریالیزم

# د دسایسو محصول دی

بیا ټایپ: خسرو ګلسرخي

کوم وخت چه لویدیځو استعمارچیانو د سوداګرو او کشافانو په جامه کښي د ختیځ په لور مخه وکړه او ورو - ورو ېې په آسیا او افریقې کښي خپل سیاسي تسلط ټینګ کړ، نو په ډېر مهارت سره ېې د استعمار د بقاء او استحکام په غرض، تر استعماری تسلط لاندي هیوادو کښي د تجزیې او تفرقې سیاست د وړاندي بیولو له پاره، د ځینو محلي او بومي خلکو په مرسته ځیني داسي موسسې او ډلي جوړي کړې، چه د خپلو طبقاتی ګټو د ساتلو له پاره د استعمار سیاسي او استعماري مقاصد وړاندي بوځي او پخپله د استعمارګرو شومو پلانو ته غاړه کښېږدي. د زمانې په تیریدو سره تاریخ خپل ارتقايي سیر ته دوام ورکاوه. له یوې خوا د تاریخ پرمختګ د استعمار د عمر د لنډیدو زیری کاوه او له بلي خوا استعمار هم په ډېري چالاکۍ سره خپل اثرات په لاندي شویو هیوادونو کښي ټینګول غوښتل. د نړۍ دوهمه لویه جګړه امپریالیستانو شروع کړه او هغه په خپله د استعمارچیانو په ضرر تمامه شوه. په آسیا او افریقا کښی ملي نهضتونه ډیر او شدید شول، هندوستان وار په وار آزادی او خپلواکۍ وره ته ور نږدې کیده، تر څو چي په پای کښي نیشنلزم (ملیت خواهی) په غربي امپریالیزم باندي بری وموند او ماتي ته ېې اړ کړ. څه وخت چه استعمار په دې پوه شو چه وروسته تر دې نشي کولای په خپله اصلی بڼه پاتي شي نو ېې خپلو همغږو په خپل لاس جوړ کړو ډلو ته، چه تل ېې د ملي نهضتونو په مقابل کښي د دوی ملاتړ کړی وو، د چارو واګي پلاس ورکړې او لوی هیوادونه ېې په عجب اساس تجزیه کړل او ځیني داسي نوي هیوادونه ېې جوړ کړل، چه تاریخ د هغو نوم نه پیژاند. یو له هغو هیوادونو څخه چه په عجب او غریب اساس تجزیه شو، هندوستان و چه په څو برخو وویشل شو. په شرقي بنګال باندي د شرقي پاکستان او غربي پنجاب او سند باندي د غربي پاکستان نوم کښیښودل شو او بیا دغه دوه ټوټې د یوه هیواد د پاکستان اسلامي دولت په نامه یاد شو او په دې

صورت سره د پاکستان اوسنی دولت په یو غیر طبیعي ډول د استعماري اغراضو له پاره د دوه عسکري قشلو په څېر د هندوستان په شرق او غرب کښې منځ ته راغی، چه شرقي برخه یې په وروسته کلونو کښې د سیټو په نظامي تړون پوري وتړل شوه او غربي برخه یې د بغداد په نظامي پکټ پوري مربوطه شوه. هرکله چه د پاکستان موجودیت په واقع کښې غیر طبیعي او غیر واقعي وو، ځکه یې د بقا او استحکام هیله ډېره لږه وه، نو په ډېري بې رحمۍ او غیر قانوني ډول سره ځیني داسي علاقې وربوري وتړلي شوې، چه نه یې د تاریخ او جغرافیې له مخي او نه د ملیت، ثقافت ژبي له حیثه چا د تړلو حق درلوده. دا علاقې د پښتنو له خاوري- پښتونستان څخه عبارت وې. دا علاقې چه د پښتونستان په نامه یادیږي، هغه ټوټې دي چه د استعمار د اوج او ترقۍ په دوران کښې د جبر او تشدد او د ځیني غیر حقوقي معاهدو له لاري د پښتنو له اصلي خاورې- افغانستان څخه جلا شوي دي. کوم وخت چه پښتنو د شلمي پیړۍ د ډېر مشهور اصل یعنی سلف- دیترمنیشن Self- determination په اساس د خپل سرنوشت د تعینولو فیصله وکړه او خپله مقاطعه یې له پاکستان او هندوستان سره اعلان کړه، نو افغانستان هم د تاریخي علایقو له مخي د دوی دا ادعا تایید کړه، په دې وخت کښې د پاکستان استعماري واکمنو د خپلو حامیانو په داد په حقوقي پرنسیپونو کښې سفسطه شروع کړه؛ کله به یې ویل چه پښتانه او د پښتنو خاوره مونږ ته په میراث کښې راپاته ده، کله به یې د پخوانیو منسوخ شویو قراردادو په بنا د پښتونستان د الحاق د حقانیت دعوا کوله، کله به یې ویل چه پښتانه او پنجابیان دوه مسلمان وروڼه دي، نو پاکستان چه ددې ملحوظاتو په بنا جوړ شوی دی، د پښتون او پنجابي مشترک کور دی. دادی مونږ په دې لنډه مقاله کښې د پورتنیو ادعاګانو په باب یو څه لیکل غواړو:

د میراث مسئله په حقوقو کښې ډېر لوی بحث دی. په لنډ ډول سره په دې برخه کښې دومره ویل غواړو، چه میراث پریښوول او د توارث حق هغه وخت پیدا کیږي، چه مال موروثه یا د ذوالید په اساس، یا د کوم تړون په اساس د میراث پریښووونکي په حقوقي ملکیت کښې داخل شوی وي. که چیری دا اصل د پښتنو په خاوره او ددې خاوري په اوسیدونکو باندي تطبیق کړو، نو ګورو چه میراث پریښوونکی یعنې انګریز په هیڅ وخت کښې د هیڅ حقوقي اصل په بنیاد د پښتنو د خاوري د ذوالیدي دعوی نشي کولای ځکه چه د پښتنو خاوري خپل څښتن درلود، هیڅ کله بې څښتنه نه ده پاته شوې چه د وخت د تیریدو په اساس د انګریزانو په ملکیت کښې داخله شي. بله دا چه دا خاوره هیڅکله او هیچا د کوم حقوقي تړون له مخي انګریزانو ته تملیک کړې نه ده. که چیری ددوی مقصد هغه تړونونه وي، چه په لاهور او ګندمک کښې لاسلیک شوي دي او یا د دیورند تحمیل شوې

معاهده یادوي دا معاهدې خو اصلاً حقوقي ماهیت نه لري، ځکه چه د لاهور معاهده د شاه شجاع له خوا له انګریزانو او رنجیت سنګه سره شوي وه، په داسي حال کښي چه شاه شجاع په هغه وخت کي د یوه مخلوع او شړل شوي شاه په حیث په دې معاهدې لاسلیک کړی و، چه هغه د حقوقو له مخي هیڅ صلاحیت نه درلود چه د افغانستان د خاوري او خلکو په باره کښي کوم تړون امضا کړي، ځکه چه د معاهدې د تنفیذ او اجراء لپاره باید دواړه متعاهدین د معاهدې د امضا کولو صلاحیت ولري.

د ګندمک معاهده د امیر محمد یعقوب خان او انګریزانو له خوا په ګندمک نومي ځای کښي امضا شوه، ددې معاهدې د امضا په وخت کښي امیر محمد یعقوب خان د انګریزانو له خوا اسیر شوی و، چه حتی له خپلي خیمې څخه یې د دباندي وتلو حق هم نه درلود او د یوه بندي په څیر هندوستان ته بیول کیده. اوس به دا قضاوت لوستونکو ته پریږدو او دا پوښتنه به وکړو چه که چیري یوه معاهده تر داسي شرایطو لاندي امضا کیږي چه یوه خوا حاکم او بله خوا محکوم وي، یوه خوا بندي او بله خوا د بندیوان حیثیت ولري؛ داسي یوه معاهده به بیا هم کوم حقوقي ماهیت ولري؟ آیا داسي یوه معاهده کولای شي، چه یوه ټوټه ځمکه او د هغې اوسیدونکي د چا په ملکیت کښي داخل کړي؟

دریمه کومه معاهده چه هغه وکولای شي، د پښتنو خاوره د انګریزانو په ملکیت ورداخله کړي، د ډیورند معاهده ده. که چیري د ډیورند معاهده د حقوقي اصولو تر رڼا لاندي وڅیړله شي، هغه هم عین ماهیت لري، ځکه چه د ډیورند له معاهدې مخکښي ځیني نوري معاهدې موجودي وې، چه د افغانستان خپلواکي یې غصب کړې وه، د ډیورند د معاهدې په وخت کښي افغانستان یواځي کورنۍ خپلواکي درلوده، باندنۍ خپلواکي او سیاست د هند د برطانوي حکومت له خوا اداره کیده، هغه زور چه ددې معاهدې پر وخت په افغانستان باندي اچول شوی و او هغه عدم رضایت چه د افغانستان له خوا ددې معاهدې د امضا په وخت ښوول شوی دی، هم انګریزي سیاست مدارانو تایید کړی. که چیري یوه معاهده د یوه مسلط قوت له خوا په تحت تسلط هیواد باندي د تهدید او زور له لاري تحمیلیږي، آیا هغه به عادلانه او حقوقي اصلیت ولري؟؟ که چیري ټولي دغه معاهدې له یوې خوا او د افغانستان د خپلواکۍ جګړه له بلي خوا تر غور لاندي ونیسو، نو ددې معاهدې د بطلان تر دې لوی دلیل او ثبوت بل نشته، ځکه چه د بین المللي حقوقو په اساس جګړه د معاهداتو د لغوه او منسوخولو آخري چاره ده، هرکله چه د پښتنو خاوره نه د انګریزانو ذوالید وه او نه د کومي حقوقي

معاهدې په اساس د کوم قيمت په بدل په دوی خرڅه شوې وه، نو په کوم حق سره انګريزان هغه بل چا ته په ميراث پرېښوولی شي؟؟ آيا داسي کيدای شی، چه ښځښتن يې ژوندی وي او مال يې ميراث شي؟؟؟ که چيری پاکستاني واکمن وايي، چه پښتانه او پنجابيان مسلمانان دي او پاکستان د دين په اساس جوړ شوی دی، بايد پښتانه په پاکستان پوري وتړل شي، دا هم کوم معقول او حقوقي دليل کيدای نشي، ځکه چه دين هيڅکله داسي نه کوي چه يو ولس دي له خپلي هستۍ څخه محروم کړي. مونږ په نړۍ کښي ډير مسلمانان وينو چه نه يواځي ديني بلکه د ژبي او کلچر يووالی هم لري، خو هر يو ځانته جلا مليتونه دي او جلا هيوادونه او واکمنۍ لري. دين چه پاکستان يې د پښتنو سره د يووالی ادعا کوي، د هندوستان په څلويښت ميليونه مسلمانانو کښي هم موجود دی، ولي پاکستان د هغو د الحاق ادعا نه کوي؟ ولي پاکستان له اندونيزيا سره د الحاق ادعا نشي کولای؟ کله - کله بيا پاکستاني زمام لرونکي دا وايي، چه پښتنو د يو ريفرينډم پر اساس له پاکستان سره خپل الحاق اعلان کړی دی. د پاکستان دا ادعا هم صدق نلري ځکه چه له اجباري ريفرنډم نه مخ کښي د بنو د خپلواکۍ تړون بايد په نظر کښی ونيول شي، چه د پښتنو د هغه وخت ټولو خلکو په شمول، د هغه وخت قانوني صوبايي حکومت هغه لاس ليک کړی و او د نړۍ له ډېرو راډيويي سټيشنو څخه اعلان وشو، چه پښتنو د خپل سرنوشت د تعيين فيصله وکړه. پښتانه نه پاکستان غواړي او نه هندوستان. پښتانه آزاد په اسلامي اصولو بنا خپل جمهوريت غواړي، چه واګي به يې د عوامو په لاس کښي وي.

پای

سنبله ۱۳۳۸/ اګست- سپتامبر ۱۹۵۹

تهيه و ترتيب: ع . ق . فضلی

21-04-2020

څپاغلی میرا کبر

# د پښتونستان کړ کیچ د امپر یالزم

## د دسایسو محصول دی

کوم وخت چه لویدیځو استعمار چیانو دسوداګرو او کشافانو په جامه کښی دختیځ په لور مخه وکړه او ورو ورو یی په آسیا او افریقی کښی خپل سیاسی تسلط ټینګ کړ نو په ډیر مهارت سره یی داستعمار دبقا او استحکام په غرض تر استعماری تسلط لاندی هیوادو کښی دتجزیی او تفرقی سیاست د وړاندی بیولو له پاره یی دځینو محلی اوبومی خلکو په مرسته ځنی داسی موسسی او دلی جوړی کړی چه دخپلو طبقاتی ګټو دساتلو له پاره داستعمار سیاسی او استعماری مقاصد وړاندی بوځی او پخپله داستعمار ګرو شومو پلا نو ته غاړه کښیږدی. د زمانی په تیریدو سره تاریخ خپل ارتقایی سیر ته دوام ورکاوه له یوی خوا دتاریخ پرمختګ د استعمار دعمر دلنډیدو زیری کاوه او له بلی خوا استعمار هم په ډیری چالاکی سره خپل اثرات په لاندی شویو هیوادو کښی ټینګول غوښتل دنړی دوهمه لویه جګړه امپریالستانو شروع کړه او هغه په خپله داستعمار چیانو په ضرر تمامه شوه په آسیا او افریقا کښی ملی نهضتونه ډیر او شدید شول هندوستان وار په وار آزادی او خپلواکی ورته ورنژدی کیده ترڅو چه په پای کښی نیشنلزم (ملیت خواهی) په غربی امپریالیزم باندی بری ومونداو ماتی ته یی اړکړ. څه وخت چه استعمار په دی پوه شو چه وروسته تردی نشی کولای په خپله اصلی بڼه پاتی شی نو یی خپلو همهغو په خپل لاس جوړ کړو دلو ته چه تل یی دملی نهضتونو په مقابل کښی ددوی ملاتړی کړی وه دچارو واګی پلاس ورکړ.

اولوی هیوادونه یی په عجب اساس تجزیه کړل اوو ځینی داسی نوی هیوادونه یی جوړ کړل چه تاریخ دهغونوم نه پیژاند. یوله هغو هیوادونو څخه چه په عجب او غریب اساس تجزیه شو هندوستان و چه په څو برخو ویشل شو. په شرقی بنګال باندی دشرقی پاکستان او غربی پنجاب اوسند باندی دغربی پاکستان نوم کښیښوول شوا و بیا دغه دوه ټوټی دیوه هیواد دپاکستان اسلامی دولت په نامه یاد شو او په دی صورت سره دپاکستان اوسنی دولت په یو غیر طبیعی دول د استعماری اغراضو له پاره ددوه عسکری قشلو په څیر دهندوستان په شرق اوغرب کښی منځ ته راغی چه شرقی برخه یی په وروسته کلونو کښی دسیټو په نظامی تړون پوری وتړله شوه او غربی برخه یی

دبغداد په نظا می پکټ پوری مربوطه شوه . هر کله چه د پاکستا ن موجودیت په واقع کښې غیر طبیعي او غیر واقعي و ځکه یې د بقا ا و استحکام هیله دیره لږه وه نوپه دیری بی رحمی او غیر قانونی دول سره ځینې د اسی علاقې وړپوری وتړلی شوی چه نه یې د تاریخ او جغرافیې له مخی او نه د ملیت ، ثقافت ژبې ، له حیثه چادتړلو حق درلوده . داعلاقې دپښتنو له‌خاوری - پښتونستان څخه عبارت وی . دا علاقی چه د پښتونستان په نامه یادیږی هغه تو تې دی چه داستعمار د اوج اوترقی په دوران کښې دجبر اوتشدد او دځینی غیرحقوقی معاهدو له لاری دپښتنو له اصلی خاوری - افغانستان څخه‌جلا شوی دی . کوم وخت چه پښتنو دشلمی پیړی ددیر مشهوراصل یعنی‌سلف‌ـ دیټرمنیشن Self-determination په اساس دخپل سرنوشت دتعینولو فیصله وکړه او خپله مقاطعه یې له پاکستان او هندوستان سره اعلان کړه نو افغانستان هم د تاریخی علایقو له مخی ددوی دا ادعا تائید کړه په دی وخت کښې دپاکستان استعماری واکمنو د خپلو حامیانو په داد په حقوقی پرنسیپونو کښې سفسطه شروع کړه کله به یې ویل چه پښتانه اودپښتنو خاوره مونږ ته‌په میراث کښې‌را پاته ده کله به یې د پخوانیو منسوخ شویو قراردادو په بنا د پښتونستان دالحاق د حقانیت دعوا کوله کله به یې ویل چه پښتانه وپنجابیان دوه مسلمان ورونه دی نوپاکستان چه د دی ملحوظاتو په بنا جوړ شوی دی دپښتون اوپنجابی مشترك کور دی . دادی مونږ په دی لنډه مقاله کښې دپورتنیو ادعاگانو په باب یوڅه لیکل غواړو :

دمیراث مسئله په حقوقو کښې د یر لوی بحث دی . په لنډ دول سره په دی برخه کښې دومره ویل غواړو چه میراث پریښوول او دتوارث‌حق‌هغه وخت پیدا کیږی چه مال موروثه یادذوالید په اساس یاد کوم تړون په اساس‌دمیراث‌پریښوونکی‌په حقوقی‌ملکیت کښې داخل شوی وی . که‌چیری دا اصل د پښتنو په خاوره اوددی خاوری په اوسیدونکو باندی تطبیق کړو نوگورو چه میراث پریښوونکی یعنی انگریز په هیڅ وخت کښې د هیڅ حقوقی اصل په بنیاد د پښتنو د خاوری د ذوالید ی دعوی نشی کولای ځکه چه دپښتنو خاوری خپل څښتن درلود هیڅ کله یې څښتنه په ده پاته‌شوی چه‌د وخت دتیریدو په‌اساس دانگریزانو په ملکیت کښې داخله شی . بله دا چه دا خاوره هیڅکله‌او هیڅچا د کوم حقوقی تړون له مخی‌انگریزانو ته تملیك کړی نه ده . که چیری د دوی مقصد هغه تړونونه وی چه په لاهور او گندمك کښې لاسلیك شوی دی اویا ددیورند تحمیل شوی معاهده یادوی دا معاهدی خو اصلاً‌حقوقی ماهیت نه لری ځکه چه د لاهورمعاهده د شاه شجاع له‌خوا له انگریزانو او، نجیت سنگه سره شوی وه په داسی‌حال کښې‌چه شاه شجاع په هغه وخت‌دیوه‌مخلوع اوشړل شوی شاه په حیث په دی معاهدی لاسلیك کړی و چه هغه دحقوقو له مخی هیڅ صلاحیت‌نه‌درلود چه‌دافغانستان دخاوری اوخلکو په باره کښې کوم تړون امضا کړی ځکه چه د معاهدی دتنفیذ او اجرا لپاره باید دواړه متعاهدین دمعاهدی دامضا کولو صلاحیت ولری .

دگندمك معاهده دامیر محمد یعقوب خان او انگریزانو له خوا په گندمك نومی ځای کښې امضا

شو ه د د ی معا هد ی د ا مضا په و خت کښی امیر محمد یعقوب خان د انگریزانو له خوا اسیر شوی و چه حتی له خپلی خیمی څخه بی د د باندی و تلو حق هم نه درلود او د یوه بندی په څیر هندوستان ته بیول کیده او س به د ا قضاوت لوستونکو ته پریږ دوا و د ا پوښتنه به وکړ و چه که چیری یوه معاهده تر داسی شرایطو لاندی ا مضا کیږی چه یوه خوا حاکم او بله خوا محکوم وی یوه خوا بندی او بله خوا دبند یوان حیثیت ولری داسی یوه معاهده به بیا هم کوم حقوقی ماهیت ولری؟ آیا داسی یوه معاهده کولای شی چه یوه توته ځمکه و دهغی او سیدونکی دچا په ملکیت کښی داخل کړی ؟

د ر یمه کومه معا هد ه چه هغه و کولا ی شی دپښتنو خاوره دانگریزانو په ملکیت ورداخله کړی ددیور ندمعاهده ده . که چیری ددیور ندمعاهده دحقوقی اصولو تر رڼا لاند ی و څیړله شی هغه هم عین ماهیت لری ځکه چه ددیورند له معاهدی مخکښی ځینی نوری معاهدی موجودی وی چه د افغانستان خپلوا کی یی غصب کړی وه د دیورند د معاهدی په وخت کښی افغانستان یوا ځی کو ر نی خپلوا کی درلود ه د باندنی خپلوا کی ا و سیاست دهند دبرطانوی حکومت له خوا اداره کیده هغه زورچه د دی معا هد ی په وخت په افغانستان باندی اچول شوی و او هغه عدم رضا یت چه دافغانستان له خوا ددی معاهدی دامضا په وخت ښوول شوی د ی هم انگر یز ی سیا ست مد ا را نو تا ئید کړی که چیر ی یوه معا هده دیوه مسلط قوت له خوا په تحت تسلط هیوا د با ند ی د تهد ید ا و زور له لاری تحمیلیږی ا یا هغه به عا د لانه او حقوقی اصلیت ولری؟؟ که چیری تولی د غه معا هد ی له یوی خوا او دا فغا نستا ن د خپلوا کی جگړ ه له بلی خوا تر غور لاندی ونیسو نو د دی معا هدی د بطلان تر د ی لوی د لیل او ثبوت بل نشته ځکه چه د بین ا لملی حقوقو په ا سا س جگړ ه د معا هد اتو د لغوه ا و منسوخولوا خری چاره ده هر کله چه د پښتنو خا وره نه د ا نگریزا نو ذ وا لید وه ا و نه د کومی حقوقی معا هد ی په ا سا س د کوم قیمت په بد ل په د و ی خر څه شوی و ه نو په کو م حق سره ا نگریزا ن هغه بل چا ته په میرا ث پریښوولی شی؟ ؟ ا یا داسی کیدای شی چه څښتن یی ژوندی وی ا و ما ل یی میرا ث شی؟؟؟ که چیری پا کستا نی وا کمن وا یی چه پښتا نه ا و پنجا بیا ن مسلما نا ن د ی ا و پا کستا ن د دین په ا سا س جوړ شوی د ی با ید پښتانه په پا کستا ن پوری وتړل شی دا هم کوم معقول او حقوقی دلیل کیدای نشی ځکه چه د ین هیڅکله د ا سی نه کوی چه یوو لس د ی له خپلی هستی څخه محروم کړ ی مونږ په نړ ی کښی د یر مسلما نا ن وینو چه نه یوا ځی د ینی بلکه د ژ بی ا و کلچر یووالی هم لری خو هر یو ځا نته جلا ملیتونه د ی ا و جلا هیوا د ونه ا و وا کمنی لری د ین چه پا کستان یی د پښتنو سره د یو وا لی ا د عا کوی د هند وستا ن په څلویښت ملیونه مسلما نا نو کښی هم موجود د ی ولی پا کستا ن د هغو د ا لحاق ا د عا نه کوی؟ ولی پا کستان له ا ند و نیزیا سره دا لحاق ادعا نشی کولای؟ کله کله بیا پا کستانی زمام لرونکی د ا وائی چه پښتنو د یوریفرند م په ا سا س له پا کستان سره خپل الحاق ا علان کړ ی دی. د پا کستان دا ا د عا هم صدق نلری ځکه چه له ا جبا ری ر یفر ند م نه مخکښی د بنو د خپلوا کی تړ ون با ید په نظر کښی و نیول شی چه د پښتنو د هغه وخت تولو خلکو په شمول د هغه وخت قانونی صوبایی حکومت هغه لاس لیک کړ ی و ، او د نړ ی له د یرورا د یوئی ستیشنو څخه اعلان وشو چه پښتنو د خپل سر نوشت د تعین فیصله وکړ ه پښتانه نه پا کستان غواړ ی او نه هندستان پښتانه آزاد په اسلامی اصولو بنا خپل جمهوریت غواړ ی چه وا گی به یی د عوامو په لاس کښی وی      پای

## په دې گڼې کښې


| مخ | ليکونکي يا مترجم | شمېر مضمون |
|---|---|---|
| ۱ | ښاغلی کاکړ | ۱ ـ د پيتسبرګ سيمينار |
| ۵ | ديو شمېر شاعرانو له خوا | ۲ ـ د پښتونستان مشاعره |
| ۱۸ | ښاغلی ميرا کبر | ۳ـ د پښتونستان کړکيچ .... |
| ۲۱ | «خادم | ٤ ـ ژوندا و مرګ |
| ۲۲ | « کـوثـر | ٥ ـ د پښتو لرغونتوب |
| ۲٦ | «مير اکبر | ٦ ـ د مشرى عمومى پرابلمونه |
| ۳۲ | «پالوال | ۷ ـ پور (زوى) |
| ۳۸ | « تـړ ى | ۸ ـ کښل شوى اسناد |
| ٤۲ | « شپون | ۹ ـ د استايوسکى |
| ٤۸ | « پکتيا نـى | ۱۰ ـ پښتنه ميرمن |
| ٥۹ | « الفت | ۱۱ ـ من لم يشکر ...... |
| ٦۱ | . | ۱۲ ـ راغلى ليکونه |
| ٦۲ | | ۱۳ ـ پښتو خبرونه |


او په لومړى او دوهمى پښتى کښې به د احمد شاه بابا، مير حمزه شنوارى او خان عبدالغنى خان خوندور اشعار ولـو لئ

www.esalat.org